# په پښتوژبه کښې د نیولوجیزم باقاعده غورځنګونه

## Formal Movements of Neologism in Pashto Language

(Author: Sharif Khan)

**Abstract:**

The scholar in this article has shed scholastic light on movements of Neologism formally taken shape in Pashto literature. Though, the roots have been academically drawn-out to the early signs, but specifically engrossed emphasis on formal initiation of Neolgism efforts through systematic approach. In this way, Amir She Ali Khan is dubbed by the linguistics as the first Amir to have launched endeavours on official level to cope with this linguistic phenomena. He established ways and means for this purpose and supervised the efforts to logically deal with this confronting challenge. Apart from Amir's efforts, the Alamu Academ Kabul, Pashto Academy Peshawar, and the contribution of Abdul Samad Khan Achakzai and Dr. Majawar Ahmed Ziyar have played incomparable role in this direction. The researcher has strived critically to bring forth all those efforts rendered for neologism movements in Pashto literature.

**Keywords:** Neologism, engrossed,linguistic, rendered, literature.

د پښتو ژبې پوهان او لیکوالان که څه هم د پښتو نیولوجیزم پیل د امیر کروړ له هغو لرغونو(Classic) ، خپللاسي(Neologism) رغول شوو او پورویزونه (adopted words) سره تړلي، کوم چي د پښتو ژبې په لومړي موندل شوي حماسي نظم کښې راوړل شوي دي. خو د دې مفکورې منوونکي پوهان (په خاصه توګه ډاکټر مجاور احمد زیار) پر دا ټینګار کوي چي د ا توري د امیر کروړ لخوا د شعوري زیار په نتیجه کښې مینځته راغلي دي، او د پښتو نیولوجیزم پیل په ګوته کوي. خو ځیني څېړونکي (لکه مصموم هوتک) له دې نظر سره اختلاف لري، او پریکړه کوي چي دا توري یا د نیولوجیزم پیل د امیر کروړ په حماسي نظم کښې په منطقي څېړنه نه شي ثابیتېدلی، او هغه توري چي امیر کروړ راوړي دي، کېدای شي عادي توري وي. خو دا پوښتنه یوې علمي او تحقیقي پلټنې ته اړتیا لري چي پر خپل وخت به وڅېړل شي. تر دا لمخه چي د پښتو نیولوجیزم باقاعده غورځنګونو ته ځیر شو، ښه به دا وي چي د نیولوجیزم تعریف، جوړښت او ارزښت په ګوته کړو.

د نیولوجیزم توری د یوناني ژبې له دوو مرکب تورو " نیو " (New) او "لوګوس" (Logos) څخه اخیستل شوی ټکی دی چي مانا یې د نوي توري علم یا خبره ده. داسي نیولوجیزم په اصطلاح کښې د نوو ټکو د جوړښت او رغولو علم ته وئیل کیږي. د نیولوجیزم دپاره په پښتو کښې د نویزونه او خپللاسي رغاونې اصطلاوې استعمالیږي، چي د نیولوجیزم پور

**ژباړه**(Loan-Translation): ده. نیولوجیزم د اوس مهال یوه توده او اړینه موضوع ده چي پر نړیواله کچه یې د ژبپوهانو پام و خپلې خوا ته اړولی دی، او د ټیکنالوجي او انټرنیټ پرمختګ، د رسنیۍ کردار او د نړۍ په یوه کلي بدلېدل د نیولوجیزم ارزښت نور هم زیات کړئ دی. پوهان په دې خبره متفق دي چي پر نړیواله کچه بشپړه ژبه وجود نلري، او ژبې د وخت او ټولنیز ارزښتنو په رڼا کښې د تحویل او تغیر اصولونو ته غاړه ږدي، مانا جدت خپلوي. د ویب پاڼه د نیولوجیزم په حقله داسي معلومات راکوي.

"A neologism (from Greek néo-, "new" and lógos, "speech, utterance") is the name for a relatively recent or isolated term, word, or phrase that may be in the process of

entering common use, but that has not yet been fully accepted into mainstream language. Neologisms are often directly attributable to a specific person, publication, period, or event.” (1)

**ژباړه**:” نیولوجېزم د یوناني ژبې له دوو تورو ”نیو او لوګوس“ څخه وتلی توری دی چې په بشپړه توګه هغه نوي تورو او یا د هغه جملو دپاره کارول کیږي چې اوس ورځنی خبرو ته ګډیږي، خو دغه لاتر اوسه په بشپړه توګه ژبې نه وي خپل کړي. نیولوجېزم زیاته و یوه ټاکلي سړي، مطبوعه، پیر او یا د یوې پېښې سره اړیکه لري.“

خو پوهان د نیولوجیزم د اصولونو په ټاکلو کښې سره اختلاف لري، او دې پریکړې ته اړتیا لري چې نیولوجیزم (یا نوی رغول شوی توری ) به تر څو پوري نیولوجیزم یا نوی وي، او هغه کوم علتونه دي چې هغه د نیولوجیزم له تعریف څخه غورځوي او د عامې پانګې برخه یې ګرځوي. د یوکرانن وتلی ژبپوهه M.I. Mostovy د دې اظهار داسي کوي.

“The Ukrainian philologist professor M.I. Mostovy states that “There are no clear criteria of defining neologism as a linguistic phenomenon.”(2)

**ژباړه**:”د یوکرانن ژبپوهاند پروفیسر ایم ایي مستوي وائي: چي نیولوجیزم د یوې ژبني پدیدې په هیڅ یو داسي واضح تعریف نلري.“

جون ایلیګو د نیولوجیزم په ویبپانګه “Fifty Years Among The New Words: A Dictionary of Neologisms” کښې د نوي لغت تعریف داسي کوي.

“A new word is a form or the use of a form not recorded in general dictionaries.” (۴۶)(3)

**ژباړه**:”نوی توری یا خوېخلپله یو هیت دی او یا د یوه هیت کارول دی کوم چي په عام ویبپانګو کښې نه وي خوندي شوی.“

ډاکټرمجاور احمد زیار د کره پښتو لیکلو ویبپانګه پر دې لاندي برخو ویشي.ډاکټر زیار په ”

لیک لارښود(یوه پښتو-کره پښتو)“ کښې د نیولوجیزم په حقله داسي راوړي.

۱-”ګړدودي وییونه یا ګړویزونه، ۲-لرغوني یا ارکاییک وییونه او یا زړویزونه

۳-خپلاسي یا مصنوعي وییونه یا نویزونه، ۴-پور یا مستعار او د خپل وییو یا پورویزونه. “ (4)

پوهان په دې خبره په یوه خوله دي چي د نیولوجیزم ارزښت له انټرنیټ او رسنۍ د پرمختګ سره په څو چنده زیات شوی دی او د یوې ژبني پدیدې بڼه یې خپله کړې ده. د دې غوښتنو په رڼا کښې هر ژبه لګیا ده د دې دپاره تدبیرونه نسي او هڅې کوي چي څنګه له دې سره لاز همواره کړي. پښتو ژبه هم یوه لرغونې ژبه ده چي تاریخي سابقه لري، د دې لرغونې سابقې په رڼاکښې چي کوم علمي او اکېډمیک غورځنګونه د نیولوجیزم یا پښتو علمي کولو دپاره پېل شوي دي، دلته یې لنډه پېژندګلوي کوو.

د پښتو ژبې د ودې او پرمختګ دپاره په منظم ډول اکاډمیک غورځنګونه په نولسمه پېړۍ کښې پېل شوي دي. په دې اړه چي د پښتو نیولوجیزم او لیکدود دپاره هر زیار ایستل شوی دی هغه خو یا د علمي ادارو، ادبي ټولنو لخوا دی او یا په شخصي بڼه تر سره شوی دی. هغه تحریک چي پېرروښان او خوشحال خان خټک د خپل شعوري زیار په استازیتوب د پښتو ژبې د پرمختګ دپاره پېل کړی و، تر ډېره د پښتو ادب پر مېنه خپور پاته شو. خو په دې تاریخي پړاو کښې د پیر محمد کاکړ معرفته الا فغاني او د امیر شیرعلي خان پښتو بولۍ او

عسکري نومونه او ورپسې مرکه د پښتو، د کندهار ادبي انجمن، کابل ادبي انجمن او بیا د دې دوو په یو کولو د"پښتو ټولنې" پرانستل د پښتو ژبې د پرمختګ او ودې دپاره شعوري هڅې وې چې وخت پروخت پېل شوي دي او د پښتو نیولوجیزم په تاریخي پړاو کښې یې خپله برخه لوبولې ده. له دې پرته د پېښور پښتو اکاډمي نوم د یادولو وړ دی چې له وړومبۍ ورځې څخه خپلې ټاکلي موخې مخ په وړاندي بیایي او هڅه کوي چې پښتو ژبې ته وړپېښې ستونځوي د سیمنارونه، جرګو او غونډو د لارې وسنجوي. راځو هغو تحریکونو ته لنډه کتنه کوو چې د پښتو ژبې د پرمختګ او نیولوجیزم دپاره یې زیار اېستلی دی.

**امیر شېر علي خان** (۱۸۶۳-۱۸۷۸)(**Amir Sher Ali Khan**)

د پښتو ادب په ویړه لمنه کښې د امیر شېر علي خان هڅې د دولت په توانیدلو او پښتو ژبې په بډایي کولو کښې لویه برخه لري، او هر وخت د پوهانو او لیکوالانو لخوا په ښه نامه یاد شوی دی. شېرعلي خان د امیر دوست محمد خان زوی او د وزیر اکبر خان غازي کشر ورور وو، چې د پلار (امیر دوست محمد خان له مرګه-۱۸۶۳) وروسته یې د دولت واګې په لاس کښې واخیستې او د نوي حکومت جوړښت یې په نوي انداز اعلان کړ. له دې سره شېرعلي د دولتي چارو د عملي کولو دپاره د نوموړو شخصیاتو یوه جرګه (Cabinet) وټاکله او دهغو دپاره یې پښتو نومونه ترتیب کړل. امیر شیر د نورو دولتي چارو په څنګ کښې د پښتو ژبې د رواجولو او عملي کولو هڅې هم پېل کړې. تاریخي اسناد په ډاګه کوي چې د امیر شېرعلي خان پښتو نومونه د پښتون-افغان په تاریخ کښې هیڅ داسي ساری نلري چې پخوانیو امیرانو د پښتو ژبې د پرمختګ دپاره په ریاستي سحطح اخیستی وی. شېرعلي خان د خپلو وزیرانو دپاره داسي د پښتو نومونه ټاکلي وو. هغه نومو ته غوث خیبري په خپل اثر "پښتانه د کلتوري ښکېلاک په زنځیرونو کې" داسي پاملرنه کوي.

۱-"سید نور محمد شاه کندهاري د صدر اعظم په توګه (د لوي مختار) په نوم.
۲-عصمت الله خان غلجي جبارخېل د کورنیو چارو د وزیرپه توګه، چې لقب یې په حشمت الملک و، د (لوي مین د غرو ملک) په نوم.
۳-ارسلاح خان غلجي د بهرنیو چارو وزیر(لوی دباندي) په نوم.
۴-حبیب الله خان وردګ د مالیې وزیر، چې د مستوفي لقب یې درلود، د (لوی ملک) په نوم.
۵-حسین علي خان سپه سالار حربیه وزیر، د (ټولمشر) په نوم.
۶-احمد علي خان تیموري معیرخزانه د امرکل د (لوټولونې) په نوم.
۷-المحمد حسن خان، چې لقب یې د ببرالملک و، د پاچا سرمنشي، د (لوی کښل) په نوم." (5)

شیر علي خان په دولتي چارو کښې د پښتو ژبې په منظمه توګه راوجول پېل کړل، او د نوي حکومت تر اعلان وړاندي یې د هغو ټولو خلګو دپاره پښتو نومونه وټاکل چې له درباره سره تړلي وو. په دولتي حواله دا یوه سپېڅلې هڅه وه چې امیر د پښتو نیولوجیزم په عملي کولو پوري پېل کړه. هغه نومونه غوث خیبري داسي راوړي دي.

۱-"ایشیک اقاسي شېردل خان ته د(لوی ناب) لقب ایشیک اقاسي وروسته په (شاغاسي) واوښت.
۲-د شېردل خان زوي خوشدل خان ته د (کملي ناب) لقب.
۳-میرزا محمد حسن خان دبیر ته د (کمناب) لقب." (6)

د دې ویش امیر دا پښتو نومونه واقعي د ایراني کلتوري ښکېلاک د ماتولو په هغو سپڅېلو هڅو کښې یوه تلپاتې هڅه وه چې ملي ژبه (پښتو) یې له پېړیو څخه په شکنجه کښې راوستې وه. دا یو تاریخي حقیقت دی چې پښتنو امیرانو و فارسي ته تر پښتو زیاته پاملرنه کړې ده او هر کله یې پښتو د یوې دویمې ژبې په حیث کارولې ده. خوامیر شېرعلي له پښتو او پښتنو سره دا دوه-روخي نه وزغمله او سم د لاسه یې د دې دپاره لارې ولټولې. او غوښتل یې چې پښتو ژبه د افغان ملت د ملي ژبې په رتبه بېرته بحاله کړي. څېړنوال محمد معصوم هوتک "پرمعیاري ژبه د معیار په ژبه یوه څېړنه" کښې د شېرعلي و دې پښتو نومونو ته د پښتو پالنې او یو منظم دولت د عمومي پلان یوه وړه کړۍ ویلې ده. هغه لیکي.

"د امیر شېر علیخان د وخت پښتو نومونې د هغه امیر له خوا په هیواد کې د نوي مدنیت او یوه منظم دولت د جوړیدو له پاره د عمومي پلان یوه کوچنوټي کړۍ ده او په رشتیا سره هم باید د نومورې امیر په محاسنو او هیوادپالوهلوځلو کې وشمېرل سي. د ده دا کار د پښتو پالنې یوه ستره نمونه ګڼل کېدلای سي." (7)

شیر علي د امیرۍ واګې اخستلوسره د یو منظم دولت د جوړولو دپاره د غشتلي لښکر تابیا وکړه او پښتو نومونه یې ورته وټاکل. د دې مقصد د اصلولو دپاره له انګریزي څخه کتابونه په فارسي وژباړل شول، خو اصطلاحات یې په پښتو دي. معصوم هوتک پخپل پورتني اثر کښې د پښتو بولۍ او عسکري اصطلاحات داسي په ګوته کړي دي.

"د دې لښکر د جوړولو له پاره مقرري او کتابونه له انګرېزي څخه په فارسي ترجمه سول چې (شرح قواعد پیاده ګان پلتن) ، (کتاب قواعد رساله) او (کتاب قواعد پلتن) نومېږي. د دې کتابو ژبه فارسي ده خو بولۍ او عسکري اصطلاحات یې پښتو دي." (8)

له بده مرغه د امیرشېرعلي خان دغه دولتي او عسکري نومونه مخ په وړاندي نه وپالل شول. د بهروني استعمارګر بریدونه او کورنۍ شخړې هیڅکله افغان ملت و دې ته نه دی لمسولی چې د علمي پرمختګ دپاره ګامونه پورته کړي. خو د امیرامان الله خان د راتګ سره د روڼ صباوون استازي ښکاره شوې او ورسره د سوچه پښتو پاللو دپاره زمینه برابره کړه. د امیرامان الله خان دوره د سوکالي او امن دوره بلله کیږي او هغه لوی ټبرونه چې د امیرحبیب الله خان او امیر عبدالرحمن خان په دورو کښې کوچېدلي وو، بېرته ته خپل وطن ته راستون شول. په دې نومونو کښې یو ستر نوم د علامه محمود طرزي دی چې له ترکیه څخه بېرته خپل وطن ته راغلی او دسوچه پښتو پالنې دپاره یې خپل توان او قوت ولګولی.

**دعلومو اکاډمي هڅې او دریځ:**

د تاریخ په داسي خړبجن او وینو لړلي پړاو کښې د علومو اکاډمي کابل بنسټ او علمي هڅې واقعي د یو روڼ صباوون زیری دی.د تاریخ او ادب پوهان په دې متفق دي چې دامیر حبیب الله خان او د ده د زوی امان الله خان واکمنی د علم او زدکړې دپاره په تاریخي او عملي توګه غوره دورې بللې شوې دي. په دې روښاني دورو کښې د سراج الاخبار او مرکه د پښتو (چې اوس یې نوم د پښتو مرکه مستعمل دی) مینځته راتلل د پښتو ژبې د علمي کولو په لور اغیزمندې هڅې وي چې وروسته د ادبي ټولنو دپاره یو بنسټ وګرځېدې. د پښتو مرکه د ژبې وړومبۍ علمي ټولنه ده چې په منظمه توګه یې د پښتو لیکدود او پرمختګ دپاره کار پیل کړ. دې مرکې د پښتوهغه زوړ

ليکدود د څه بدلون پرته په خپلو ليکونو کښې خوندي ساتلی دی، چې له پخوا څخه راروان و. په حقيقت کښې مرکه د پښتو د پښتنانه قام د پنځه زره کلن تاريخ د ارتقايي سفر يو بل پوړ دی چې د پښتو ادب د پرمختګ او علمي کولو وظيفه يې د شخصي لاسونو څخه و اجتماعي مټو ته ولېږدوله او د نړۍ سره يې د متمدن ژوند په لور اغاز پېل کړئ. خو له بده مرغه د اميرامان الله خان د واکمنۍ له ختمېدوسره د پښتو ژبې د ترقي او پرمختګ دپاره پرانستل شوې مرکه هم وتړل شوه. د پښتو مرکه د پرانستلو په تاريخ کښې اختلاف ليدل کيږي. عبدالکريم بريالي په خپل اثر"د پښتو ليکدود" کښې ۱۳۰۲ش ق يادوي خو د علومو اکاډمي تاريخچه کښې ۱۳۰۱ثبت شوی دی.

"په کابل کښې په کال ۱۳۰۲ ش ق کښې د پښتو مرکه جوړه سوه او کتاب يې وليکي په هغه پخوانۍ ليک کښې يې څه بدلون راوستي." (9)

خو وجيه الله شپون "د افغانستان د علومو اکاډمي تاريخچه" کښې د پښتو مرکه پرانستلو نېټه د ۱۳۰۱ ش. کال (۱۹۲۲م) په ګوته کوي.

"پښتو مرکه: يا (مرکه د پښتو) د ۱۳۰۱ش. کال د عقرب په مياشت (۱۹۲۲م) کې د شاه امان الله خان د واکمنۍ په دوره کي د مولوي عبدالواسع په رياست د کابل د ارګ په شمالي برج کي پرانستل شوه او په ۱۳۰۲ش کال (۱۹۲۳م) يې د دريم رياست په توګه د پوهني وزارت په آډانه کي فعاليت کاوه او په هيواد کي د لومړني علمي او اکاډميک مرکز په توګه پېژندل شوی دی. دا موسسه د ۱۳۰۳ش کال په اړودوړ کي له منځه ولاړه." (10)

د پښتو مرکې لومړئ مشر عبدالواسع خان کاکړ و، او پر دولس غړو مشتمله وه. د پښتو مرکې په لومړي ځل د پښتو ليکدود او ژبني ستونځو د هوارولو دپاره په منظمه توګه کار پېل کړ او دوه کتابونه "پښتو پښويه او يوازينۍ پښتو" يې د پښتو ادب لمنې ته ډالئ کړل. خو له بده مرغه د اميرامان الله خان په ضد د رجعتي ملا سقاوي لخوا عمليات پېل شول او امير يې په دې مجبور کړی چې خپل هيواد پريږدي. د رجعت پسندي له دې عملياتو سره د روښانې دورې لمر په هيواد کښې پريوت. او ورسره د پښتو ژبې د پرمختګ او ودې دپاره پرانستل شوې مرکه هم وتړل شوه. معصوم هوتک ليکي چې د امان الله خان د واکمنۍ له ختمېدو سره د پښتو مرکه هم وتړل شوه چې د پښتو ژبې د روڼ صباوون دپاره يو زيری وو. هغه داسي په ګوته کوي.

"مرکه د پښتو د اماني دورې له ختمېدو سره پاۍ ته ورسېده." (11)

د سقاوي دوره د افغانستان په تاريخ کښې د رجعت او انارشي (Anarchy) دوره بللې شوې ده. په دې دوره کښې د امير امان الله خان د واکمنۍ لمنه رانغاړل د مدنيت ور تړل وو چې اثرات يې پرټول وطن خپاره شول، خو د واکمني دا دورې تر ډېره دوام ونموند. د حبيب الله کلکاني (سقاوي) د واکمنۍ له ختمېدو سره د دولت واګې د محمد نادرخان لاس ته راغلې، چې د پښتو ادب دپاره يو زرين دور ثابت شو. په دې دوره کښې د ټولنو د پرانستلو يوه نوې لړۍ پېل شوه چې پکښې د "کابل ادبي انجمن" (انجمن ادبي) بنسټ په کال ۱۳۱۰ش کښې کښېښودل شو، او بيا يوکال ورسته په کندهار کښې د "پښتو انجمن" وړومبۍ ډېره د محمد ګل خان مومند په لاس کښېښودل شوه. محمد ګل خان مومند، په "لنډکي پښتو او پښتونواله" کښې د دې يادونه داسي کوي.

"کله چي د کندهار تنظیمه رئیس و، نو هلته یې د محمد نادر شاه شهید په اراده په ۱۳۱۱ المریز کال کې د پښتو انجمن لومړی ډبره کښېښودوه چي بیا همدغه انجمن کابل ته را وغوښتل شو او د کابل له ادبي انجمن سره یو ځای شو چي وروسته بیا (پښتو ټولنه) ځني جوړه شوه." (12)

اروښاد محمد ګل خان مومند پخپله صدارتي وینا کښې د "پښتو انجمن کندهار." تګلار او وظیفه وضع کړله چي یوازینی موخه یې د پښتو ژبې پرمختګ وو. د ټولنې په تګلاره کښې پښتو ژبه د یوې علمي ژبې په حیث معرفي کول، ژبې او ادب ته ترقي ورکول او فولکلوریک اثار را ټول او خپرول شامل و. پښتو ټولنې د پښتو لیکدود د اصلاح او یو کولو دپاره له اولې ورځې په دې تکل کښې وه چي یو لیکددو غوره کړي. ددې دپاره د پښتو ټولنې لخوا د ۲۵ پوهانو وړومبۍ غونډه په ۱۳۲۱ (۲۱مئ ۱۹۴۲) کښې را وغوشتل شوه چي د لیکدود دپاره یې پر ۲۱ اختلافي موادو باندي فیصله وکړه. عبدالکریم بریالی د پښتو ژبې د املا په حقله لیکل شوي اثر "د پښتو لیکدود." کښې د پښتو ټولنې لخوا رابلل شوې علمي جرګې نېټه داسي په ګوته کوي.

"په کال ۱۹۴۲ کښې د لیکوالو یوه جرګه وسوه چي د لیک دود لاري او قواعدوټاکي."
(13)

پښتو ټولنه له لومړۍ ورځې څخه په دا هڅه کښې وه چي څنګه وکړای شي چي د پښتنو دپاره یو لیکدود وټاکي. د دې مقصد د حاصلولو دپاره پښتو ټولنې د جرګو او غونډو لړۍ پیل کړه، او د پښتنو پوهانو یوه بله غونډه په کال ۱۳۲۷ش کال (۱۹۴۸) په کابل کښې راوبلل شوه، چي پکښې د پاکستان د برو پښتنو پوهانو ۱۹ کسیزه ډلې هم ګډون کړي وو. د دې جرګې یوازینی مقصد دا وو چي پښتو لیکدود د لهجوي اختلافه را بهر کړي. له هم دې سوبه یي د ګډونوالو زیاتې فیصلې د لیکدود د یووالي په خاطر ومنلې. پښتو ټولنې په دې اړه لومړۍ دوې جرګې یوازي د پښتو لیکدود د معیار ټاکلو دپاره جوړې کړې وې چي د لیکدود ستونځې وسنجوي. خو په ۱۹۵۴ کښې د پښتو ټولنې په اهدافو کښې یو ښکاره تحول او تغیر راغلی. په دې بدلون کښې د نیولوجیزم او ژبپوهنې د نوي پلټنو دپاره تګلاره و ټاکل شوه. څېړنوال محمد معصوم هوتک و دې بدلون ته داسي اشاره کوي.

"په ۱۳۳۳ ش کال د پښتو ټولنې په اهدافو او وظایفو کې یو ژور بدلون راغی او د نویو وظایفو په لړ کې یي د پښتو ژبې لغاتو او قواعدو تدوین د ضرورت له مخي د نویو اصلاحاتو او لغاتو وضع کول، ادبي او لغوي څېړني او د پښتو په لساني علومو پوري مربوط اثار لیکل او خپرول شامل سول." (14)

د ټولنې په تګلاره کښې دا تحویل د نوې ژبپوهنې په لور یو اغېزمند ګام وو چي د ټولنې لخوا واخستل شو. په دې کښې په تېره بیا د نوو اصلاحاتو او تورو وضع کول د نیولوجیزم په لور یو شعوري ګام وو. داسي ټولنې د خپلو جرګو لړۍ توده وساتله او لس کاله وروسته یي دریمه جرګه په ۱۳۳۷ ش کا (۱۹۵۸ اګست ۲۷) په کابل کښې را وغوښتله. په دې جرګه کښې د افغانستان د پوهانو پرته د شمالي پښتونخوا او جنوبي پښتونخوا ( بلوچستان) پوهانو هم ګډون کړئ وو. د دې جرګې موخه د پښتو لیکدود او ګرامري ستونځې هوارول وو، او په دې حقله هغه ټولې فیصلې چي په دریمه غونډه کښې تر سره شوې وې، لوستونکي هغه د محترم مصوم هوتک کتاب پر معیاري ژبه د معیار په ژبه یوه څېړنه مخ ۵۵ او د عبد الکریم بریالي کتاب د پښتو لیکدود مخ ۱۱۶مخ د دې کښې لوستلي شي.

لنډه دا چي د علومو اکاډمي د بشري او طبيعي علومو په څنګ کښې د پښتو ژبې د ودې او علمي پرمختګ دپاره ځانله بېل د ژبو او ادبياتو اداره لري چي د ژبپوهنې، ادب، فولکور او ټولنيز علومو کښې خپله وظيفه تر سره کوي. او ورسره په ډېر زيات شمېر کښې محصلين/ لوستونکي خپل تدرسونه په بېلا بېلو مضامينو کښې حاصلوي.

**د پښتو اکاډمي پېښور هڅې او دريځ:**

ادبپوهان په دې خبره په يوه خوله دي چي د قومونه پرمختګ او ترقۍ په منډه کښې د علمي ادارو کردار يو منل شوی حقيقت دی. که څه هم په افغانستان کښې د پښتو ژبې د ودې او پرمختګ دپاره علمي او ادبي ټولنې پرانستل شوي وې او په خپلو علمي او تحقيقي وظيفو بوختې وې. خو د پښتو ژبې او ادب په حقله د پوهانو او ليکوالو علمي او تحقيقي څېړنې او د دې په نتيجه کښې پريکړې نيغ په نيغه د کرښې ديخوا پښتنو دپاره په عملي کولو کښې ستونځې لېدل کېدلې. په تاريخي توګه د يوه قام په دوو هيوادونو کښې وېشل له کلتور سره د پښتو ژبه او ادب ته هم ډېر زيان رسولی دی. د دې زيان د مخنوي دپاره د کوچنی وچې (Subcontinent) د تقسيم وروسته د پښتو ژبې او ادب د پرمختګ دپاره د يوې داسي ادارې (اکاډمي) سپارښتنه په وړومبي ځل په ۱۹۴۸ کښې د پښتونخوا د اديبانو او عالمانو لخوا په يوه ادبي غونډه کښې وړاندې شوه چي د باچا ګل صاحب په صدارت کښې د اسلاميه کلب پېښور په يوه هال کښې راغوښتل شوې وه. له بده مرغه پر دې تجويزباندي په اته کاله کښې په عملي توګه هيڅ کار نه وسو او اته کاله پس د پېښور يونيورسټي په څنګ کښې "پښتو اکاډمي" جوړه شوه. چي د پښتو ژبې، ادب او کلتور د ودې دپاره به هڅې کوي. کريم بريالئ د پېښور پښتو اکېډمي د جوړېدو حقله داسي ليکي.

> "کله چي په کال ۱۹۵۶کښې د پېښور پښتو اکېډمۍ جوړه سوه نو مولانا عبد القادر مرحوم د هغې لومړئ چېرمين وټاکل سو." (15)

پښتو اکاډمي د پښتو ليکدود پاره لومړي غونډه د خپلې پرانستنې يو کال ورسته په پېښور کښې راوغوښتله. په دې غونډه کښې د افغانستان لوی پوهان لکه صديق الله رښتين، ګل باچا الفت، قيام الدين خادم او د پښتونخوا څخه دوست محمد کامل صاحب، عبدالخالق خليق، اجمل خټک، فضل حق شيدا، رشيد علي دهقان او داسي نورو ډېرو پوهانو او علمامو پکښې شرکت کړئ وو. په دې غونډې کښې د ليک په اړه ډېرې موهمي فيصلې وسولې. د يادونې وړ خبره دا ده چي لوی سياست مدار خان عبدالصمد خان اڅکزی د "پښتو ژبه او ليکدود" په نامه يو وړکوټی کتاب په ۱۹۵۶کښې چاپ کړ چي د پښتو ژبې پوهانو، ليکوالانو او مينه والو ته يي د خپلې ژبې د ليک دود پر نېمګړتياو، پرمختګ او څېړنې دپاره وړانديزونه کړي وو. که څه هم د دې غونډې محرک عبدالصمد خان اڅکزی وو، خو هغه د څه ناخلاصي له وجې په دې علمي غونډه کښې شرکت نه وو کړي.

د پوهانو او ليکوالانو په دې غونډه کښې ډېرې فيصلې وشوې چي پکښې د چاپ دپاره خط نسخ وټاکل شو، او د پښتو څلور ټکي، ځ، څ، ږ او ښ دي هم دهغسې ليکل کيږي. لوستونکي د دې فيصلو نور تفصيل د محترم عبدالکريم بريالئ کتاب "د پښتو ليک دود" پر صحفه نمبر ۱۲۳کتلالی شي. پښتو اکاډمي دويمه غونډه د اپريل پر لسمه په پېښور کښې راوبلله. په دې غونډه کښې د افغانستان او پښتونخوا څخه هغو ټولو پوهانو او علمانو

شرکت کړی وو چې د پښتو اکاډمي په تېره غونډه کښې را غونډتل شوي وو. د لیکدود او دخیل تورو په حقله ډیرې پریکړې وشوې. د نورو فیصلو په څنګ کښې د مستعارو لغتونو په حقله دا فیصلې و شوې.

دخیل توري: (Borrowed/adopted words) د عربي ژبې هغه ټول مستعار توري چې په پښتو کښې مروج شوي دي، په هغو کښې دي هیڅ بدلون نه راځي او په هغه خپل اصلي بڼه کښې دي لیکل کیږي. لکه، ظالم، قصه، قمیص او داسي نور. په پښتو کښې د خپلو تورو دپاره دا فیصله وشوه چې د لیک په وخت کښې به لومړئ پام ږغ ته بیا ریښې او ګرامر (پښویه) ته ورکول کیږي. محترم کریم بریالي د دې غونډې فیصلې په خپل یاد شوي اثر کښې په تفصیل سره راوړې دي. لوستونکي د نورو فیصلو دپاره د پښتو لیک دود مخ ۱۲۵کتلالي شي، خو دلته یې هغه دوې فیصلې راوړو چې زموږ له تحقیق یعني له نیولوجیزم سره اړه لري.

۱-"د عربي کوم ټکي چې په پښتو کښې مروج دي هغه دي په خپل اصلي شکل لیکل کیږي لکه قمیص، قصه، ظالم، حمد او ځیني توري د دې قاعدې نه مستثني وګرځول سول لکه، تپوس، ایسار، اودس، پام، لالټین، تاخ، اریان، دریان (یوځا ئ) شمکور، بخمل، وخت او دغسې نور.

۲- د پښتو د خپلو ټکو په لیک کښې لومړئ صوت (ږغ) ته بیا ریښي او ګرامر ته وکتئ سي. " (16)

د پښتو اکاډمي پیښور د دې غونډې وړومبۍ فیصله د عربي د مستعارو تورو سره تړلې ده چې پښتوژبې ته د مذهبي تعلماتو په ترڅ کښې را ننوتي دي. د دې یادونه د لغت جوړولو په اصولونو کښې پورته شوې ده چې دخیل توري په دوه رنګه وي. یوه ته مستعار توري وائي چې نیغ په نیغه یې یوه ژبه خپل کړي او دویم رنګ ته پور-ژباړه یا مفغن (Loan -Translation) توري وایي چې یوه ژبه یې د خپل ګرامري ساخت او اصولونه سره سم ترکیب کړي. دویمه فیصله د پښتو تورو سره اړه لري. په دې کښې به اول ږغ، ریښې او بیا ګرامر ته پام اړول کیږي.

ژبه او علم د قدرت د بدلون تابع دي او له هر ټولنیز او علمي پرمختګ سره بدلیږي. د دې تحول په رڼا کښې د ژبې او ادب اصولونه تغیر خوري او د وخت د غوښتنو سره سم ترکیب کیږي. پښتو اکاډمي پېښور په دې حقله وخت په وخت د پوهانو او علمانو علمي غونډې راغوښتې دي او هڅه یې کړې ده چې د وخت د غوښتنو سره سمې فیصلې د پښتو ژبې او ادب دپاره فیصله کړي. دلته د دې خبرې یادونه به بې ځایه نه وي چې پښتو ژبې ته د یوه منل شوي لیک په لاره کښې بې شېمره خنډونه دي. تر ټولو وړومبۍ ستونځه د یوه پښتون قام په دوه هیوادونو کښې وېشل او د دوو بېلا بېلو دولتونه تر اثر لاندې ژوند کوي. په داسی حال کښې هره فیصله که هغه د علومو اکاډمي وي او یا د پښتو اکاډمي پېښور لخوا وي او یا د کوټې پښتو اکاډمي لخوا وي، په عملي کولو کښې خنډونو لیدل کیږي. دا بېلتون د ژبني ستونځو په هوارولو کښې یو لوی خنډ بلل کیږي. دویمه ستونځه بیا په پاکستان کښې د پښتنو په څلورو بېلا بېلو ایالتونو کښې ویشلو سره اړه لري، چې د پښتو ژبې د یو لیکدود او ژبني فیصلو د عملي کولو دپاره خنډ بلل کیږي. د دې ټولو ستونځو برسیره، د یوې غونډې ارزښت هغه وخت په ګوته شو کله چې پښتانه لیکوال د ترهګري له سوبه د کرښې دېخوا ته را وکوچېدل. دلته د لر او برو پښتنو لیکوالو نزدیکت د یوې لویې علمي غونډې بنسټ اچولو ته لار هواره کړله. دا غونډه د پښتو اکاډمي پېښور لخوا په ۱۹۹۲کال په باړه ګلۍ (خېبرپښتونخوا) کښې را وبلل شوه. په دې غونډه کښې د افغانستان او پاکستان ګڼ شمېر لیکوالو شرکت کړی وو. د اکاډمي لخوا د هرې سیمې د نمانیدګي په حیثت یوسل څلویښت ته نېږدې لیکوالو ته

بلنه ورکړل شوې وه. د درې ورځيني سمينار په پيل کښې د ځيني ګډونوالو لخوا يوه جرګه وټاکله شوه. او هغې شل کسيزه جرګې د ټولو په نماهندګي د پښتو ژبې ليکدود په اړه ډيرې ګټورې فيصلې وکړې. چې وروسته بيا د سېمنار د ګډون والو لخوا ومنل شوې. کريم بريالئ په دې حقله په خپل اثر ”د پښتو ليک دود“ کښې داسي ليکي.

”د ټولو سيمو د ليکوالو په نمائندګي او مشوره يي يوه درنه جرګه وټاکله چي په هغو کي د ژبې اوليک لاري علمي صلاحيت هم موجود وو هغو د درو ورځو د باريک علمي بحث وروسته يوه لاړ وټاکله، په دې غړو کښې درې تنه اعزازي غړي وټاکل سول او نوره کميټيې ددوئي سره په شلو تنو باندي مشتمله وه.“ (17)

د دې جرګې د غړو نومونه محترم کريم بريالئ په خپل کتاب (د پښتو ليکدو) کښې پر مخونو ۵۷-۱۵۶ باندي ورکړې دي. د باړه ګلی د سيمنار فيصلې زياتر د ليکدو سره اړه لري. دلته هغه فيصله يا فيصلې راوړو چي په دې جرګه کښې د نيولوجيزم سره اړه لري.

۱ - ”هغه کلمې چي د عربي او فارسي نه پښتو ته راغلې دي او معني يې هم هغه ساتلې ده هغه به په خپل اصل شکل کښې ليکلائ سي لکه قميص قصه، ضعيف او هغه کلمات چي پښتو خپل کړي دي، معني يا شکل يي بدل سوئ دئ هغه به په پښتو کښې په اوښتي شکل ليکل کيږي لکه تپوس، پام او د عربي مخصوص ټکي به د پښتو په کلمتاتو کښې نه ليکو مثلآ تورخم، به په ت ليکو په ط به يي نه ليکو. ۲-هغه ټکي يا کلمې چي د عربي او فارسي نه د پيښ په حالت کښې راغلي دي په پېښ به ليکئ سي يعني په خپل رنګ کښې لکه ګل، بلبل، هغه پښتو کلمې چي پيښ لري هغه به په مجهوله واو ليکئ سي لکه پوښتنه، مور او نور داسي.“ (18)

د باړه ګلی د سيمنار نورې فيصلې د محترم ډاکټر راج ولي شاه خټک په کتاب د پښتو د نوې املا او د کريم بريالئ کتاب د پښتو ليکدود کښې لوستلی شي. د باړه ګلی سيمنارله فيصلو سره که يوه اړخ ته پوهان د يوالي اظهار کوي خو دا بل لوري ته ډيرو پوهانو نيوکې کړې دي چي د باړه ګلي د سيمنار فيصلې په بشپړه توګه نه دي منل شوې. په دې پوهانو کښې د قلندر مومند نوم تر ټولو اول دی. قلندر صاحب په دې سيمنار کښې برخه نه وه اخيستې، خو نيوکې يي تر ټولو زياتې کړې دي. لنډه دا چي د باړه ګلی سيمنار فيصلې د پښتو ژبې ليکدود او ژبني ستونځو د هوارلو په لور يوه سپڅېلې هڅه وه چې د پوهانو لخوا واخيستل شوه او تر اوسه پورې د مستندو پريکړو په توګه پلي کيږي.

## حوالې

[۱ - https://en.wikipedia.org/wiki/Neologism](https://en.wikipedia.org/wiki/Neologism): (Visited last time on April 3, 2017).

۲ - Yaroslav Levchenko, Neologism in the lexical system of modern English on the mass media material, Master's Thesis, 2010, page 9.

۳ - ۴۶ –Algeo, John, Fifty Years Among The New Words: A Dictionary of Neologisms, 1941-1991, Cambridge University Press, Page No 2.

۴- زیار، مجاور احمد، لیک لاربښود (یوه پښتو-کره پښتو) ، د ساپي پښتوڅېړنواوپراختیامرکز، چاپ، ۲۰۰۶/۱۳۸۵مخ ۹.

۵- خیبري، غوث، پښتانه د کلتوري ښکېلاک په زنځیرونو کې، دانش خپرندویه ټولنه،چاپ ۲۰۱۰م/۱۳۸۸ل، مخ ۹۸-۹۹.

۶. هم دغه اثر، مخ ۹۹.

۷- هوتک، محمد معصوم، پرمعیاري ژبه د معیار په ژبه یوه څېړنه، علامه رشاد خپرندویه ټولنه/کندهار، دوهم چاپ ۱۳۹۰ش/۲۰۱۱ع، مخ ۷۹.

۸. هم دغه اثر، مخ ۹۱.

۹ . بریالۍ، عبدالکریم، د پښتو لیک دود، پښتو اکیډمي کوئټه، چاپ ۲۰۰۰، مخ ۱۰۴.

۱۰- شپون، وجیه الله، (ژباړن:)، د افغانستان د علومو اکاډمي تاریخچه, (مائیکورو سوفټ فائیل) مخ.

۱۱- هوتک، محمد معصوم، پرمعیاري ژبه د معیار په ژبه یوه څېړنه، مخ ۵۲.

۱۲- مومند، محمد ګل خان، لنډکي پښتو او پښتونواله، بېنوا فرهنګي ټولنه، کندهار، چاپ ۱۳۸۳مخ ۶

۱۳- بریالۍ، عبدالکریم، د پښتو لیک دود، پښتو اکیډمي کوئټه، چاپ ۲۰۰۰، مخ ۱۰۷

۱۴- شپون، وجیه الله، (ژباړن:)، د افغانستان د علومو اکاډمي تاریخچه،(مائیکورو سوفټ فائیل) مخ ۶.

۱۵-.بریالۍ، عبدالکریم، د پښتو لیک دود، پښتو اکیډمي کوټه، چاپ ۲۰۰۰، مخ ۱۲۱

۱۶-.هم دهغه اثر، مخ ۱۲۵

۱۷- هم دغه اثر، مخ ۱۵۶

۱۸- هم دغه اثر، مخ ، ۱۶۱-۱۵۸.